لیکوال: سید ر. سرباز نیټه ۲۷-۱۲-۲۰۱۰

# دمرغومی شپږ مه

افغا نستا ن به خپل تا ریخ کی دمرغومی شپږمه دیوی توری ورځی په نامه ثبت کړی ده. دا هغه ورځ ده چه دوخت شوروی اتحاد دولت دټولو بشری، بین المللی قوا نین ا و گا ونډ ی توب تر منځ د نه تیری تړو نونه تر پښو لاندی کړل ، په ډیره سپین ستر گی سره یی زموږ به پا که خا وره نا ببره فوځی یر غل وکړ. ددغه فوځی زبر ځواک بی انډ وله یرغل لمړی قربانی جمهوررئیس دهغه دکورني یو شمیر ما شوما ن او ښځینه غړی وه چه په ډیره بیرحمي سره له تیغه تیر کړل. دجمهور رئیس جسد یی دتاجبیک په خوړونوکی په بمونو والوزاوه. زما په اند دافغا نستا ن لمړی واکمن به وی چه دبهرنیو یر غلګرو له خوا مخا مخ له منځه وړل شوی دی. دا چه ددغه فوځی یرغل په وړاندی مخا مخ په ځومره شمیر سره په ملکی او نظامی جزو تا مونو کی افسران، ضابطا ن، واړه ضا بطا ن،ډلګی مشران ا وسرتیری دنظا می تجهیزاتو سره له منځه تللی په خوا شینی سره شمیر او نومونه یی رسنیو ته نه دی رسیدلی. خو هرومرو با ید ووایم چه ددغو ورکو شهیدانو چه د بهرنیو یر غلګرو په وړاندی له منځه تللی روح دښاد وی .ولی د یو شمیر لیکوا لانوپه لیکنو کی شمیره یی له زرو زیاته ښودل شویده.
دوخت شوروی اتحاد واکمنو دخپل هیواد دننه او نړی والو ته په رسنیو کی ګویا داسی ښوده چه ګواکی مونږ دسهیلی سر حد سا تنی له پاره دغه یر غل تر سره کړ، ته به وایی چه خپلوا ک افغا نستا ن ددوی یو ایا لت وه.
بریژنیف او دهغه خاینی ډلی دافغا نستان د پیا وړو میرنیواو په ازادی مینو افغا نا نوشهکاریو چه په خالی لاس یی دوخت استعما ری زبر ځواک انګریزانو ته ما ته ورکړه له پا مه غورځولی او یا نه وه لوستلی شوروی اتحا د دخپل فوځی یرغل سره ببرک کارمل او دهغه لوټ ماره ډله چه دافغانی سفارتونو څخه یی هستی لوټ کړیوه او د(که. جی. بی) په ځا رګره شبکه کی پټه وه راوستله. او دپردی تر شا دروسی شپاړسم جمهوریت ترجنډی لاندی کارمل او دهغه وطن پلورونکی ډله دافغانا نو په سر حاکمان کړل.
شوروی اتحاد له دغه فوځی یر غل څخه دوه موخی درلودی.
لومړی. شوروی اتحاد دلویدیځ بلاک سره په سیالی کی پلان درلود چه دافغا نستان له لاری ګرمو اوبوته او همدارنګه دفارس دخلیج هیوادونوته داقتصادی او نظامی موخو له پاره لاس رسی پیداکړی
دویم. شوروی اتحاد دخپلو نیکونو او په ځانګړی توګه د تزاری روسی دارمانونو دسر ته رسولو له پاره افغا نستان تر خپلی ولکی لاندی راولی. دجهانی صاحب شعر دی چه وایی زموږ کشتی یی غرقه وله خپل دریاب یی توفانی شو ادامه لری.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ